**پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».**

-------------------------------------------

# د مارچ د میا شتی اتمه د ښځی د مبارزی دنړیوال ورځ دلما نځنی په منا سبت

زه نه پوهیږم چی دا فغا ن درنځ ځپلی اوپه ژوندانه کی کوم چی له هر اړخه تر ستم او ناخوالی لاندی پروت دی اودهغوی انسانی حقونه په راز راز بڼی سره دیو ډلی متحجر له پوه اوعلم څخه بی بهره د اوها مو اود تنګ نظری په جال اوتور کی انغښتی تر پښو لاندی کیږی ، دغو ښځو ته دغه ورځ په څه ډاډ ګیرنه اوپه څه تسلی ورکولو او په څه اطمینا ن سره مبا رک با د ووایم ، یعنی هغو ته چی د کور په د ننه کی د خپل میړه د طا لبی ،جها دی اود افراطی منحوس اند یښنو په لرلو سره تر دی حده هم آزادی نه لری چي خپل تکری له خپل سر څخه لیری کړی یا د خپل طبعی غوښتنی ته لاس رسی پیداکړی یا وشی کړلی چی خپل انسا نی او طبعی حقونه په آزادا نه بڼی سره ولری ، هوکی افغا نی ښځی کوم چي دخپلو میړو ، زامنو ، خویندو ، ورونو اودخپلو خپلوانو د سوری سوری شوی جسدونو په ویر کی چی دسړی وژنکو اود اسلامی افراطی ډلو ټپلو په ګوزارونو سره دشهادت جام څکلی دی ژاړي ، هغه ښځی چی او پیغلی چي پخپل اراده سره نشی کولای دخپل راتلونکی برخه لیک باندی آزادانه تصمیم ونیسی لنډه داچی همدغه افغانی ښځی دی چی په دی یوویشتم پیړی کی لاتراوسه دواپسګرایا نو د نا سا لمو با ورونو او نا ولی اند یښنو قربا نی کیږی ، حتی دهمدی ننی جها دی حا کما نو پواسطه سره چی دښځو په مقابل کی ډیر ناوړی چلند کوی ترهغه ځای چي خپل ښځی ته حق نه ورکوی چی مخ لوڅي په غونډ و ، ا نجمنونو ، اجتما عا تو اوپه رسمی اوتاریخی ورځو کی ګډون وکړي - پس په ډاګه ویلی شو چی دا افغانی ښځی دی چی دمذهبی تنور اور افغانی نا سم دودونو په اورکی سوځی . یا پخپله دروان ستم دخلاصون په نیت ځا ن په اورکی اچوی .

ګرانو مورو خویندو ستاسی دردونه او کړاونه یواځی د مارچ ددی ورځی په غونډو اوپه یولړ شعارونو سره نه درمل کیږی ، تاسی باید چی دخپل آزادی د پاره سره وږه به وږه اونه ستړی کیدونکی مبارزی ترسره کړی ، دا ډول مبا رزه په وتلو ، تظاهراتو ، لیکونو ، د سازمانونو په جوړونو او ......... ترسره کیږي یا داچی دخپل توانمندی د لوړولو دپا ره لاس په مطا لعه ، زده کړه اود نړی د نورو قهرمانو ښځو د بیو ګرافی په لوستلو سره پوری کړي او ددغو حا کمو ، نا ولو تور مخونه چی د ښځو دآزادی په

مقا بل کی د خپل وراسته مذهبی افراطی اند یښنو په لرلو سره دریږی د هغو مخونه نړی ته ښکا ره کړي .اوهغوی ته د مبا رزی په هرعرصه کی غا ښ ما تونکي ګوزار ورکړي نو زه یوځل بیا پخپل وار سره دغه ورځ تا سو ته د زړه له کومی مبارکی وایم او له تا سو څخه غواړم چی د خپل آزادی دلاسته راوړلو د پا ره سره څنګ په څنګ ودریږی اوخپل حقوق په زور سره ترلاسه کړي .

## حق په زور اخیستل کیږی

همغه معتصب چي په متروک کول ګذار
دهمغه اند یښنو سره راځی په واک دوبا ر
هغو ته د خوبا نو خندا فسق اوفسا د د ی
نه منی چي ښځی ولری خپل واک ، اختیا ر
دوی همغه بی شرم تا ریک فکران دی
چی زغم نه لری د ښځو د اقتدا ر
ځا ن کړی پوه افغا نی مورو او خویند و
چی په غیر دوحدت نشته تا سو ته بل لار
خپل صفونه او لاسونه زر نژدی کړي
تیول خندونو له خپل مخه کړی اوار
سره غونډی وکړی ښکته او پورته
آزادی ته موکړي ځا ن خپل استوار
نورو خویندو سره څنګ په څنګ نژدی شی
چیه خوله مه کیښنی لوړ کړی خپل شعا ر
حق په زور واخلی حق نه ورکول کیږی
دا ځما د (مل) وه تا سو ته اظها ر

په پای کی تاسو ټولو افغا نی مورو او خویندو ته دزړه له کومی د مارچ اتمه مبا رکی وایم اوتا سو ته د نه ستړی کیدونکی مبا رزی په لاره کی بریا غواړم **په ډیر درنا وی**
**2019-03-04**

.